**شاه محمود کډوال**

# د وروستیو دوو کلونو پوهنیز
# او ښوونیز بهیر

د وروســـتیو دوو کلونو نه زموږ موخه تر اســـلامي جمهوريت وروســـته اســـلامي امارت دی چې په یاده دوره کې پوهنیز، ښوونیز او فرهنګي فعالیتونو ته لنډه کتنه کوو. د دې لیکنې لپاره به غوره وای چې مې له بېلابېلو باوري سـرچینو څخه دقیق معلومات لوسـتونکو ته وړاندې کړي وای، خو له بده مرغه چې بریالی نه شـوم. له یوې خوا وخت لنډ او تنګ وو او له بلې خوا پر رسـنیو د محدودیتونو له کبله پرتلېزې شمېرنې نه خپرېږي او اداري هم په دې اړه دقیق معلومات نه خپروي. یوازې د احصـایې ملي اداري د ۱۴۰۰ ل کال برېښنایي کالنۍ مې وموندله چې پر بنســټ به یې لوسـتونکو ته معلومات وړاندې شـي، د دې ترڅنګ د ځینو باوري رسـنیو معلومات به هم وړاندې شـــي؛ یاده دې وي چې د ۱۴۰۰ ل کال نږدې نیم په جمهوريت او څه باندې نیم په امارت پورې تړل کېږي ، شمېرنې یې د دوو واکمنیو تر اغېز لاندې دي.

د احصایې ملي اداري د ۱۴۰۰ ل کالنۍ په ( ٦١ ) مخ کې د لوړو زده کړو په اړه لیکي:

« په ۱۴۰۰ کال کې په هېواد کې د دولتي او خصـوصـي پوهنتونو او لوړو زده کړو موسـسـو شـمېر ١٦٨ بابه، د پوهنځیو شـــمېر ٦٧٥ او د روغتیـایي انســـتیتیوتونو شـــمېر ۱۰ بـابـه دی. د لوړو زده کړو پـه دې مرکزونو کې ۳۵۱۲۳۱ تنه محصـــلین په زده کړو بوخت دي چې له هغې څخه ۱۰۳۸۵۴ تنه ښـځینه محصـــلینې دي. د ۱۴۰۰ ل کال نوي شـامل شـوي ښـځینه ارقام د ۱۳۹۹ کال په پرتله ۲٦ سـلنه کموالی ښـیي. د لوړو زده کړو استادان په ۱۴۰۰ کال [illegible] چي له هغې [illegible] تنه یې ښځینه دي. د احصایې او معلوماتو ملي اداره ، غویي ۱۴۰۱ ل )

Ketabton.com

په وروسـتیو دوو کلونو کې د دولتي پوهنتونو او لوړو زده کړو موسـسـو شمېر پر خپل ځای دی، خو د خصوصي پوهنتونو او موسـسـو په شـمېر کې د کموالي شونتیا شته، ځکه ځینو یې قانوني ستونزې لرلې او ځینې کېدای شـي د محصـلینو د کموالي او اقتصـادي سـتونزو له کبله تړل شـوي وي. له دې سـره به د خصـوصـي برخې د استادانو شمېر هم کم شوی اوسي !؟ د دولتي پوهنتونو په پرتله د خصوصي پوهنتونو محصلین په ټوله کې ډېر کم شـول ، ځکه ډېر محصـلین اقتصـادي ستونزو تحصیل ته نه پرېښوول، په دولتي کې خو دا اسانتیا شته چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

فیسـونه نه لري او نور لګښـونه یې دومره ډېر نه دي. د خصـوصـي برخې کار هغه وخت لا خراب شو چې ښځینه محصلینې له زده کړو راوګرځول شوې. د ازادۍ راډیو د یو راپور ( ۲ ، تله ۱۴۰۱ ) پر بنسټ د خصوصي پوهنتونو د محصلینو شمېر د تېر په پرتله تر ( ٦٠ ) سلنې کم ښوول شوی، د یاد راپور پر وخت ښځینه محصلینې تحصیل ته تللې چې پر هغوی تر بندیز وروسته دا شمېر صفر شو.

د دولتي پوهنتونو د نارینه محصـلینو په شـمېر کې د پاموړ کموالي شونتیا شته، ځکه په دې تحصیلي دوره کې ځوانان وي چې ناوړه شرایط او تبلیغات پرې ډېر اغېز کوي، بله خوا د هوسا ژوند هیلې یې هم ډېرې وي. د دې شـونتیا شـته چې شـاوخوا تر ۵۰ سـلنې ډېر کم شـوي اوسي !؟ د امارت په لومړي کال کې د ښځینه محصلینو شـمېر نږدې د ۱۴۰۰ کال په څېر ښـوولی شـو، ځکه په دوی کې د کډوالۍ شونتیا کمه وه، خو د دویم کال په وروسـتۍ نیمایي کې د ټولو شـمېر صفر شو، ځکه پوهنتونونه یې پرمخ وتړل شول. د ۱۴۰۰ ل کال د شمېرو پر بنسـټ ۱۰۳۸۵۴ ( یو لک و درې زره ، اته سـوه او څلور پنځوس ) تنه محصلینې تر جمهوریت وروسته د امارت په واکمنۍ کې په تدریجي ډول د بېلابېلو لاملونو پر بنسـټ له لوړو زده کړو محرومې شوې او اوس هم محرومې دي. له شـک پرته که خندونه ورته مخ ته شـوي نه وای، په وروسـتیو کلونو کې د ۱۴۰۰ کال په پرتله د ښـځینه محصـلینو شـمېر ډېرېده، ځکه سـوله او ټولیز امنیت وو او دوی په سـختو قاچاقي لارو د کډوالۍ هڅه هم ډېره کمه کوله. بله خوا اقتصـــادي فشـــارونو او کار ته هم تر ډېره نارینوو اوړه ورکوله او نجونو ته یې د زده کړو زمینه مساعدوله.

د اسـتادانو په شـمېر کې هم څه ناڅه کموالی راغی، ځکه یوه برخه یې کډوال شول چې (بي بي سي) یوازې د کابل پوهنتون د کډوالو استادانو شمېر تر ۴۰۰ لوړ خپور کړ (بي بي سي، ۱ غبرګولی ۱۴۰۲ ) د نورو ځرګند نه دی، خو هلته هم شـته او دا بهیر لا پرمخ ځي. په وروسـتیو دوو کلونو کې یو شـمېر هغه اسـتادان هم هېواد ته راستانه شول چې په تېره واکمنۍ کې د تحصیل لپاره بهر ته تللي وو، ورسره د امارت له لوري ډېر نوي استادان هم پر دندو وګمارل شـول چې کېدی شي ، څومره ییزه تشه به ډکه شوې اوسي، خو د څرنګیزې تشې ډکول به ډېر وخت وغواړي. په کډوالو اسـتادانو کې د ښـځینه وو شـتون هم شـونی دی. په هېواد کې مېشـتې ښـځینه استادانې په عادي توګه دندو ته نه ځي، خو امتیازات یې ورکول کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

احصايوي کالنۍ په ( ٦١ ) مخ کې د ۱۴۰۰ ل کال د ښوونيزو چارو په اړه ليکي:

« د نوې سروې پر بنسټ چې په ۱۴۰۰ کال کې د پوهنې وزارت له خوا ترسره شوې ، د هېواد په کچه د ټولو ښوونځيو شمېر ١٦٥٥١ بابه دی. د زده کوونکو شمېر ۹۵۰۱۲۲۹ چې ۳۷۳۲٦۳۳ يې نجونې دي. دا شمېرې لومړني ښوونځي، لېسې، مسلکي لېسې، د ښوونکو د روزنې موسسې، تخنيکي او مسلکي انستيتيوتونه او ديني مدرسې رانغاړي. په ۱۴۰۰ ل کال کې ټول ښوونکي ۲۰۵۰۸۴ تنو ته رسېده چې له هغې جملې څخه ۷۰۱۸۲ تنه يې ښځينه ښوونکې وې. په ۱۴۰۰ ل کال کې د سواد زده کړې کورسونو شمېر ۲۰۵۸ بابه او د زده کوونکو ټول شمېر ۴۱۳۳۹ تنو ته رسېده. د فارغو شويو شمېر ۱۴۸۸۹ تنه دي. » ( د احصايې او معلوماتو ملي اداره ، غويي ۱۴۰۱ ل )

د ۱۴۰۰ ل کال پر بنسټ چې نږدې نيمايي يې په جمهوريت پورې اړونديږي ، د امارت د دوو کلونو شمېرنې داسې ښکاري: د ښوونکو په ټول شمېر کې کموالی نه ښکاري. ځکه څوک له دندو گوښه شوي نه دي. د کډوالۍ شونتيا يې هم کمه ده، که وي هم د پام وړ نه ده. د امارت په راتگ سره ښوونکي لاډېر شول، ځکه اړ وو خپل ملگري وگماري او د هغوی لپاره بستونه ډېر کړي چې دقيق شمېر يې څرگند نه دی. ښځينه ښوونکې هم پر خپلو دندو دي.

د نارينه زده کوونکو په ټول شمېر کې له يوې خوا د ډېرښت شونتيا شته ، ځکه سوله راغله، په هغو سيمو کې هم زده کوونکي ښوونځيو ته تللی شي چې پرون د جگړې پر وخت تللی نه شو. له بلې خوا گڼشمېر پخواني پوځيان او د نورو ملکي پراختيايي پروژو کارکوونکي بېکاره شول چې کېدی شي خپل اولادونه يې له ښوونځيو ايستلي وي !؟ د بېکارۍ او اقتصادي ستونزو له کبله ښايي ډېرو خپل اولادونه له خصوصي ښوونځيو ايستلي وي او وړيا دولتي ښوونځيو کې يې شامل کړي وي !؟

د لېسې دورې پر ځوانو زده کوونکو د ناوړه حالت او تبليغاتو اغېز ډېر وي، د دوی په شمېر کې د کموالي شونتيا ډېره ده ، دوی هم د پوهنتون د محصلينو په څېر د هوسا ژوند لپاره دېرې هيلې لري ، ځکه کډوالېږي يا د ډېر فقر له کبله زده کړې پرېږدي چې کوردننه يا بهر کار وکړي. له بده مرغه په وروستيو دوو کلونو کې بېکاري او فقر ډېر شو چې دا پر ښوونه او روزنه اغېز لري. د ۱۴۰۰ کال د ښځينه زده کوونکو په شمېر کې هغه نجونې هم گډې ښکاري چې په تېر جمهوريت کې يې زده کړې کولې او د امارت په راتگ سره پرې ښوونځي وتړل شول، ځکه دوی د کال تر نږدې نيمايي ښوونځي ته لاړلې او وروسته نه تللې. پر دې بنسټ د کال په لومړۍ نږدې

(c) ketabton.com: The Digital Library

نیمايي کې شـمېر بشـپړ او په وروستۍ څه باندې نیمايي کې کم شوی چې د کال په پای کې ټول شمېر لیکل شـوی دی. په دې مانا چې د ۱۴۰۰ کال ټولې زده کوونکې ۳۷۳۲۶۳۳ ( درې میلیونه ، اووه لکه ، دوه دېرش زره، شـپږ سوه  او درې دېرش ) دي چې که فرض کړو، نیمې یې تر شپږم ټولګې پورې دي او نیمې یې تر شپږم پورته او بیا په وروستۍ نیمايي کې یې کموالی وشمېرل شي، په دې مانا چې یاده ټولګه د یاد کال د زده کوونکو (۷۵) سـلنه رانغاړي او (۲۵) سلنه ترې کمې شوي؛ نو په یاده شمېره کې شاوخوا ۱۲۴۴۲۱۱ ( یو میلیون، دوه لکه، څلورڅلوېښــت زره، دوه ســوه او یوولس ) زده کوونکي کم شــوي چې په یاده شــمېره ورډېر شــي، نو بیا ۴۹۷۶۸۴۴ ( څلور میلیونه، نهه لکه، شــپږ اویا زره، اته ســوه او څلورڅلوېښــت ) کېږي چې د یاد کال د ټولو ښځینه زده کوونکو شمېر ترې اټکلي څرګندېدی شي. بیا که همدا ټولیز شمېر پر دوو ووېشو چې نیمې تر شپږم او نیمې تر شـپږم پورته ښـځینه زده کوونکې شـي، شـاوخوا دوه میلیونه، څلور لکه، اته اتیا زره، څلور سوه او دوه (۲۴۸۸۴۲۲) وېش کېږي. په دې حساب ویلای شو چې په وروستیو دوو کلونو کې په وروستي شمېر کې جونې هر کال له زده کړو محرومې شوې دي. د یادونې وړ ده چې که د وروستیو دوو کلونو سوله، امنیت او څارنه په پام کې ونیسو، د ۱۴۰۰ ل کال په پرتله د وروستیو دوو کلونو د ښځینوو زده کوونکو شمېر ډېر لوړېده.

د ۱۴۰۰ ل کـال یـادې کـالنۍ، پـه پنځمه برخه، ۱۱۹ مخ کې د ټولنیزو فعالیتونو تر ســرلیک لاندې فرهنګي معلومـات خپـاره کړي چې موږ یې مهم ترې رااخلو. پـه لانـدې جـدولونو کې د درېوو کلونو ( ۱۳۹۸، ۱۳۹۹ او ۱۴۰۰ ) پرتلېزې شـمېرنې وړاندې شوي چې هر څه ښه رڼوي او د وروستیو دوو کلونو معلومات هم ترې یوه څه را ایســتلای شــو. په دې لاندې جدول کې ښــکاري چې په ځینو برخو کې د فرهنګي فعالیت کچه ډېره راټیټه شوې ده. دا ټیټوالی تر ډېره د ۱۴۰۰ ل کال په وروستۍ نیمايي کې پېښ شوی ښکاري.

له لومړي جدول (د کال په توپیر د فرهنګي مرکزونو فعالیتونه) نه لاندې سپیناوی راوباسو:

۱ – په ۱۴۰۰ ل کال کې د عامه کتابتونو شمېر له تېرو کلونو سره ډېر توپیر نه لري. په وروستیو دوو کلونو کې یې د ډېروالي شـونتیا شـته، خو د کموالي نه، ځکه دا تر ډېره دولتي وي او دولتي فعالیتونه تر ډېره ولاړ نه دي. په وروسـتیو کلونو کې د یادو کتابتونو د کتابونو په شـمېر کې هم کموالی شـونی نه ښـکاري، بلکې ډېروالی یې شونی دی، ځکه پخواني کتابونه خوندي شول او نوي ورډېر شول.

۲ – په مرکز کې د ۱۴۰۰ ل کال د ورځپاڼو، جریدو، خپرونو او مجلو شــمېر له تېرو دوو کلونو ســره ډېر توپیر لري. په همدې کال کې د مرکز د ورځپاڼو، جریدو، خپرونو او مجلو د چاپ ټول شـــمېر هم د تېرو دوو کلونو په

(c) ketabton.com: The Digital Library

پرتله خورا کم دی. دا شمېرې هم د جمهوريت ښکاري، ځکه د امارت په راتگ سره نږدې د کال ترپایه دا ډول فعالیتونه ولاړ وو. وروسته فعالیتونه پیل شول، خو فکر نه کوم ، د ۱۴۰۰ کال سره انډول شوي اوسي !؟ د کموالي شونتیا يې ډېره ده ، ځکه په ۱۴۰۰ کال کې د بهرنیو پراخو مرستو اغېز شته چې پر ورځپاڼو، جریدو، خپرونو او مجلو يې هم اغېز درلود او وروسته نه شته. وروسته تر ډېره ورځپاڼې، جریدې، خپرونې او مجلې په دولتي مالي ملاتړ خپرېدې چې شمېر يې دومره ډېر نه ښکاري.

۳ - د ولایتونو د ورځپاڼو، جریدو، خپرونو او مجلو په شمېر کې هم ۱۴۰۰ ل کال له تېرو دوو کلونو سره ستر توپیر لري. هلته هم د چاپ ټول شمېر د تېروو دوو کلونو په پرتله خورا کم شوی دی. په وروستیو دوو کلونو کې د ولایتونو کولتوري حالت نږدې د مرکز په څېر دی چې په (۲) گڼه کې ورته اشاره وشوه.

۴ – په ۱۴۰۰ ل کال کې د موزیمونو په شمېر کې ډېروالی ښکاري. په وروستیو دوو کلونو کې يې د ډېروالي شونتیا ډېره ده، ځکه پام ورته ډېر شو. په ۱۳۹۹ ل کال کې د نندارچیانو شمېر صفر او په ۱۳۹۸ ل کال کې تر ۱۴۰۰ ل کال ډېر دی. په وروستیو دوو کلونو کې دا شمېر ډېر ښکاري، ځکه موزیمونه هم ډېر شوي او سولې نه په گټنې به نندارچیان موزیمونو ته ډېر تللي وي، که څه هم اقتصادي ستونزې پرې اغېز لري !؟

۵ – په نورو شمېرو کې ډېر توپیر نه شته ، په وروستیو دوو کلونو کې يې ډېروالی شونی دی، خو کموالی نه، ځکه داسې بدلون راغلی نه دی چې د اوبایمې لسیزې په څېر څه ویجاړ یا چور شوي اوسي !؟

۱ – جدول : د کال په توپیر د فرهنگي مرکزونو فعالیتونه

| No. | | Unit | 1400<br>2021 | 1399<br>2020 | 1398<br>2019 | د مقیاس واحد | | شمېره |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 1 | Number of Public Libries | Number | 95 | 97 | 96 | باب | د عامه کتابتونونو شمېر | ۱ |
| 2 | Number of books in the publiclibraries | Copy | 475936 | 460142 | 456954 | ټوک | د کتابونو شمېر په کتابتونونو کې | ۲ |
| 3 | Number of magazines &newspapers center | Headline | 28 | 754 | 849 | عنوان | د ورځپاڼو، جریدو، خپرونو او مجلو شمېر په مرکز کې | ۳ |
| 4 | Total Number of Copies | Copy | 29000 | 1797910 | 615000 | نسخه | د چاپ شمېر | ۴ |
| 5 | Number of magazines &newspapers per provinces | Headline | 25 | 391 | 385 | عنوان | د ورځپاڼو، جریدو، خپرونو او مجلو شمېر په والایتونو کې | ۵ |
| 6 | Total number of copies | Copy | 55700 | 488599 | 229000 | نسخه | د چاپ شمېر | ٦ |
| 7 | Total number of museums | Number | 12 | 5 | 4 | باب | د موزیمونو شمېر | ۷ |
| | Visitors of museums | Person | 5666 | 0 | 20989 | تن | د موزیمونو د نندارچیانو شمېر | |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 8 | | | | | | | | ۸ |
| 9 | Manuscript national archive | Copy | 6786 | 6886 | 6724 | نسخه | د ملي آرشیف لیکل شوې پاڼې | ۹ |
| 10 | Valuable documents | Segment | 50721 | 50721 | 50492 | قطعه | ارزښت لرونکي سندونه | ۱۰ |
| 11 | Historical photos | Segment | 53270 | 53270 | 53270 | قطعه | تاریخي انځورونه | ۱۱ |
| 12 | Scripts | Segment | 1257 | 1257 | 1221 | قطعه | د قطعه لیکونو شمېر | ۱۲ |

له دویم جدول ( دسینمایي فعالیتونو تولید ) نه لاندې معلومات اخیستی شو :

۱ – په ۱۴۰۰ ل کال کې د فلمونو د تولید دولتي او خصوصي موسسې صفر دي، خو فکر کوم د ( افغان فلم ) اداره وه او اوس هم شته، ځکه دا د دولتي جوړښت برخه ده. خصوصي که صفر وشمېرل شي، بیا تر یوه بریده سمه ده، ځکه امارت پرې محدودیتونه ولګول او ډېر کارکوونکي یې هم کډوال شول.

۲ – د لاندیني جدول له مخې د نورو سینمایي فعالیتونو په برخه کې کېدی شي دوه وروستي کلونه ډېر فعال نه اوسي، خو ځینې فعالیتونه شته چې په نږدې ټولو رسنیو کې لیدل کېږي.

۲ – جدول : د سینمایي فعالیتونو تولید

| No. | Indication | Unit | 1400<br>2021 | 1399<br>2020 | 1398<br>2019 | واحد<br>واحد | | شمیره |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 1 | Film production companies | Number | 0 | 8 | 1 | باب | د فلمونو تولیدي موسسې | ۱ |
| 1-1 | Government | Number | 0 | 1 | 1 | باب | دولتي | ۱-۱ |
| 2-1 | Private | Number | 0 | 7 | 0 | باب | خصوصي | ۱-۲ |
| 2 | Total art films production | Programme | ۱۱ | 11 | 9 | برنامه | ټول هنري تولید شوي فلمونه | ۲ |
| 1-2 | Lengthy cinematicfilms | Programme | 2 | 0 | 0 | برنامه | سینمایي اوږده فلمونه | ۲-۱ |
| | Long art films | Programme | 4 | 1 | 0 | برنامه | هنري اوږده فلمونه | |
| 3-2 | Short art films | Programme | 5 | 10 | 9 | برنامه | هنري لنډ فلمونه | ۲-۳ |

له درېیم جدول ( د دولتي او خصوصي راډیوګانو او ټلوېزیونو خپروني ) څخه په ټوله کې داسې معلومات راوباسو:

۱ – په دوو وروستیو کلونو کې نه د دولتي تلویزیونو شمېر کم شوی او نه د راډیوګانو، پر دې بنسټ یې د خپرونو شمېر هم کم نه ښکاري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲ – په دوو وروستيو کلونو کې د خصوصي راډيوګانو او ټلويزيونو شمېر کم شوي، څکه يې خپرونې هم کمې شمېرل کېږي.

۳ - د دولتي او خصوصي راډيوګانو او ټلويزيونو خپرونې(ساعتونه)

| No. | Kinds of aid | 1400<br>2021 | 1399<br>2020 | 1398<br>2019 | شاخصونه | شمېره |
|---|---|---|---|---|---|---|
| 1 | Government radio broadcasts 24 hrs | 454.90 | 509 | 466.5 | په شپه او ورځ کې دولتي راديويي خپرونې | ۱ |
| 1-1 | Center | 19 | 19 | 34.5 | په مرکز کې | ۱-۱ |
| 2-1 | Provinces | 435.9 | 490 | 432 | په ولايتونو کې | ۱-۲ |
| 2 | Private radio broadcasts 24 hrs | 692 | 1517 | 4629 | په شپه او ورځ کې خصويص راديويي خپرونې | ۲ |
| 1-2 | Center | 216 | 661 | 769 | په مرکز کې | ۲-۱ |
| 2-2 | Provinces | 476 | 856 | 3860 | په والايتونو کې | ۲-۲ |
| 3 | Government tv broadcasts 24 hrs | 344.4 | 378 | 340 | په شپه او ورځ کې دولتي تلويزيوني خپرونې | ۳ |
| 1-3 | Center | 48 | 48 | 24 | په مرکز کې | ۳-۱ |
| 2-3 | Provinces | 296.4 | 330 | 316 | په والايتونو کې | ۳-۲ |
| 4 | Private tv broadcasts 24 hrs | 260 | 855 | 1819 | په شپه او ورځ کې خصوصي تلوېزوين خپرونې | ۴ |
| 1-4 | Center | 219 | 648 | 941 | په مرکز کې | ۴-۱ |
| 2-4 | Provinces | 41 | 207 | 878 | په ولايتونو کې | ۴-۲ |

له څلورم جدول ( په کابل کې د سينماګانو فعاليتونه ) څخه په ټوله کې داسې معلومات اخلو:

۱ – په وروستيو دوو کلونو کې دولتي سينماګانې شته، خو خصوصي به نه وي !؟ څه وخت وړاندې په يوه سينما کې کوم فلم ننداري ته وړاندې شوی و ، څکه نو په دولتي سينماګانو کې د نندارچيانو او څوکيو شمېر د ۱۴۰۰ ل کال په څېر صفر نيولی نه شو او د ګرځنده سينماګانو شمېر صفر نيسو.

۴ - په کابل کې د سينماګانو فعاليتونه

| No. | Indicator | Unit | 1400<br>2021 | 1399<br>2020 | 1398<br>2019 | واحد | شاخصونه | شمېره |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 1 | Number of cinema halls | Number | 4 | 2 | 3 | باب | د سينماګانو شمېر | ۱ |
| 1-1 | Government | Number | 3 | 2 | 3 | باب | دولتي | ۱-۱ |
| 2-1 | Private | Number | 1 | 0 | 0 | باب | خصوصي | ۱-۲ |
| 2 | Number of chairs | Seat | 0 | 1095 | 2324 | پايه | په سينماګانو کښي د څوکيو شمېر | ۲ |
| 1-2 | Government | Seat | 0 | 1095 | 2324 | پايه | دولتي | ۲-۱ |
| 2-2 | Private | Seat | 0 | 0 | 0 | پايه | خصوصي | ۲-۲ |
| 3 | Number of audiences | Thousand Person | 0 | 0 | 35.5 | زر تن | د نندار چيانو شمېر | ۳ |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۳-۱ | دولتي | زر تن | 35.5 | 0 | 0 | Thousand Person | Government | 1-3 |
| ۳-۲ | خصوصي | زر تن | 0 | 0 | 0 | Thousand Person | Private | 2-3 |
| ۴ | د گرځنده سینماگانو شمېر | دستگاه | 4 | 4 | 0 | Device | Number of mobile movies | 4 |

**پایله:**

د بېلابېلو لاملونو پر بنسټ جمهوریت او امارت سره پرتله کېدی نه شي، ځکه د جمهوریت بنسټګر بهرنیان او د هغوی شتمني وه چې له خپلو جنګالیو سره یې یوځای هېواد ته رادننه کړله او یو بدلون یې راوست؛ سیاسي، اقتصادي، امنیتي او فرهنګي برخې د هغوی تر اغېز لاندې وې. د هغوی مرستو په ډېرو برخو کې بدلون راوست چې پوهنیزې، ښـوونیزې او کلتوري هم پکې ګډې وې. امارت د خپلو شـونتیاوو په اډانه کې د تېرې جګړې په ترڅ کې ترسره شوي مثبت بدلونونه وساتل، خو ځینې یې له وسه بهر وو، هغه شتمني یې نه لرله چې له بهرنیانو سره وه، ځکه تر تېر راوروسته زیان ولیدل شو. یوازې د یوې برخې زیان په دوی پسې شمېرل کېږي چې هغه د ښځینه زده کوونکو او محصلینو پر زده کړو د بندیز له کبله ټولنې ته رسېږي. د بهرنیانو وتو او د شتمنۍ کموالي فرهنګي فعالیتونه هم راکم کړل، خو د امارت کلتوري محدودیتونو هم پکې خپله ونډه لرله.

**اخځونه**


۱ – د ازادۍ راډیو وېبپاڼه.( ۱۴۰۱ ل ). د خصـوصـي پوهنتونو مسـوولان: د محصـلینو شـمېر تر ٦٠ سـلنه کم شوی دی [ راپور ] په ۱ ، لړم ، ۱۴۰۲ له https://pa.azadiradio.com/a/32049381.html ترلاسه شوی.

۲ – د احصایې او معلوماتو ملي اداره .( ۱۴۰۱ ل ) . د ۱۴۰۰ ل کال احصایوي کالنۍ ، ۴۳ ګڼه ، دویمه نسخه ( pdf ). پـه ۲۷ ، تـلـه ، ۱۴۰۲ لـه http://nsia.gov.af:8080/wp-content/uploads/2022/11/Three-Language-Hjry-Shamsy-016-2.pdf ترلاسه شوې.

۳ - د بي بي سـي وېبپاڼه . ( ۱۴۰۲ ل ) . د کابل پوهنتون له نیمايي ډېر استادان له افغانستانه وتلي [ راپور ] په ۱، لړم ، ۱۴۰۲ ل له https://www.bbc.com/pashto/articles/cer1m2dzwvyo ترلاسه شوی.

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**